اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: فيضانِ عبدالله بن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا

اول ځل: ..........................................

تعداد: ......................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په لمُونځ کښې پوره پوره تَوجُّه

صحابي رسول حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به ډیر زیات په خُشُوع خُضُوع سره لمُونځ ادا کولو، یو ځل هغوئي لمُونځ کولو چې په خواه کښې نزدے ئې وړوکے ماشوم ځوئ موجود وو، ناڅاپه د چت نه مار د ماشوم په خواه کښې راپریوتو خلقو د "مار مار" چغې جوړې کړې او آخر دا چې خلقو مار مړ کړو خو د دومره شور کیدلو باوجود هغوئي هم هغه شان په لمُونځ کښې مشغول وو . (سیر اعلام النبلاء، 464/4)

سُبْحٰنَ الله! په لمُونځ کښې دومره خُشُوع و خُضُوع هم د هغوئي حصه وه هغوئي به چې کله سجده کښې لاړلو نو دومره اُوګږده سجده به ئې کوله چې مرغۍ به د هغوئي ملا مات دیوال ګنړلو او په هغې باندې به کښیناستله. (موسوعه ابنِ ابی الدنیا، 341/1، حدیث: 467)

## منجنیق به کاڼړي وړول خو په لمُونځ کښې به ئې فرق نه راتلو

حضرت عمر بن عبدالعزیز رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ حضرت ابومُلَیکه رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته اوفرمائیل: ما ته د حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ صفتونه بیان کړه نو هغوئي عرض اوکړو: په الله پاک مې دِ قسم وي! ما داسې یو بدن نه دے لیدلے لکه څنګه چې د حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ بدن وو، یوه ورځ هغوئي په لـمانځه اودریدلو چې د منجَنِیق (د توپ په شان یوه آله به وه چې د هغې په ذریعه به غټې غټې ګټې ویشتلے کیدے، د هغې) نه یوه ګټه د هغوئي د ګِیرې او سینے په مینځ کښې تیره شوه، په الله مې دِ قسم وي! د هغوئي په سترګو کښې هیڅ ویره نه وه، د هغوئي په قراءت کښې هم څه فرق رانَغلو او نه ئې په رکوع کښې فرق راغلے څنګه به چې هغوئي رکوع کوله.(دین و دنیا کی انوکھی باتیں، 499/1)

## لکه چې يو لرګے ولاړ وي

عبدُالله بِن زُبَير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا به چې کله په لـمانځه اودريدلو نو داسې به ښکاريدلو [لکه په يو ځائے ولاړ] لرګے چې وي او دا خبره به د هغوئي په لـمانځه کښې د خُشُوع و خُضُوع په وجه وئيلے شوه. (سنن کبری،2/398،حدیث:3522) حضرت عمر بن دينار رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: ما د صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن زُبير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه زيات په ښه انداز باندې خوك په لـمانځه کولو نه دے ليدلے. او د حضرت عطاء رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ نه روايت دے چې کله به حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ لمُونځ کولو نو داسې به ښکاريدلو لکه هغوئي چې راټوکيدلے يو څيز دے کوم چې حرکت نه کوي.(صفة الصفوة،1/388،مصنف عبدالرزاق،2/172، حديث:3312)

## بےمثاله سخي، لمُونځ کوونکے

حضرت اِبنِ اَبي مُليکه رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ بيان کوي چې حضرت عمر بن عبدالعزيز رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ما ته اوفرمائيل: "ستا په زړۀ کښې د حضرت عبدالله بن زبير رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د دومره ډير مَحبَّت څه وجه ده؟" ما عرض اوکړو: که تاسو هغوئي ليدلے وے نو د هغوئي په شان د الله پاک نه مُناجات کوونکے، د هغوئي په شان لـمونځ کوونکے او د الله پاک د ذات په باره کښې د هغوئي همره مضبوط او د هغوئي نه زيات سخي به مو نه وے موندلے. (مستدرک،4/711،حدیث:6392)

## د خُشُوع تعريف

خوږو اسلامي ورونړو! چې په لـمانځه کښې د الله پاک عظمت پيشِ نظر وي، د دنيا نه ئې توجه لرې شوې وي، په لـمانځه کښې ئې زړۀ لګيدلے وي او په سکون سره ولاړ وي، اخواه ديخواه نه ګوري، خپل بدن او کپړو سره لوبې نه کوي او څه عبث او بےکاره کار نه کوي. دا د لـمانځه خُشُوع ده. (تفسیر کبیر،8/256ماخوذا،مدارک،ص751،صاوی،4/1356)

## په لـمانځه کښې خُشُوع "مُستحب" ده

علامه بدرُ الدِّین عَینِي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: لمُونځ کښې خشوع مستحب ده. (عمدة القاری، 391/4، تحت الحدیث:741) اعلٰي حضرت، امام اهلِ سُنَّت مولانا امام شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: د لمُونځ کمال، د لمُونځ نُور، د لمُونځ ښه والے د لـمانځه په فِکر او سوچ او د زړۀ په حاضرئ (یعني خشوع) سره ده . (فتاوٰی رضویه،205/6) مطلب دا چې د اعلٰی درجے لـمونځ هغه دے کوم چې په خشوع سره ادا کړے شي.

## په رزق کښې برکت او د غم لرې کولو ښه وظیفه

حضرت امام برهان الدین ابراهیم زرنوجي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: لـمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره ادا کول او په علمِ دین حاصلولو کښې مشغول اوسیدل فکر و غم لرې کوي. او په روزئ کښې د برکت ډیره مضبوطه ذریعه دا ده چې انسان لـمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره، د تعدیلِ ارکان (یعني د لـمونځ ارکان په قلاره قلاره ادا کولو) د خیال ساتلو سره او د ټولو واجباتو او سنتونو پوره پوره رعایت کولو سره ادا کړي . (راهِ علم، ص92، 87)

هر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحّت نَماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جمات کونتره

جنتي ابن جنتي، صحابي ابن صحابي حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْه د عباداتو به هُم څه وائے، هغوئي شپے په درې حصو کښې تقسیم کړې وې، یوه شپه به ئې په ولاړه عبادت کولو تر دې پورې چې سحر به شو، یوه شپه به ئې په رکوع کښې تیروله، تر دې پورې چې د سحر وخت به شو او یوه شپه به ئې د سجدے په حالت کښې

تیروَله تر دې چې سحر به شو. (اُسد الغابه،3/245) چا د هغوئي د والدې محترمې حضرت بي بي اَسماء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه د هغوئي متعلق تپوس اوکړو نو هغوئي اوفرمائيل: زما د ځوئ [حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بن زُبَیر رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا] شپې به اکثر په قِیام یعني (یعني لـمونځونو) کښې تیریدلې او ورځې به ئې په روژو کښې تیریدلې، په هُم دې وجه به هغوئي ته حَمامُ المَسجِد [یعني د جُمات کوتَره] وئیلے شوه.

(حلیۃالاولیاء، 1/411، رقم:1183)

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت: کاش چې د صحابيِ رسول حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د عبادتونو او په لـمانځه کښې د خشوع و خضوع مونږ ته هم یوه ذرّه نصیب شي، افسوس! زمونږ نه عبادت ته ډېره لګې او نه تلاوت ته، بس اخواه دیخواه لـمونځ اوکړو او واپس راشو، مونږ ته به څنګه په لـمانځه کښې خُشُوع و خُضُوع نصیب شي چې زمونږ د کاروبار حساب کتاب او د نورو مصروفیاتو شیډول هم په لـمانځه کښې جوړیږي، یقیناً د لـمونځ کولو نه مخکښې د لـمونځ کولو د پاره تیاري هُم کول وي لهٰذا چې څومره کیدے شي ذهن د دنیاوي خیالاتو نه د پاک کولو کوشش کول پکار دي، الله پاک دِ مونږ ته خپل عبادت بنه د زړهٔ په شوق سره د ادا کولو توفیق رانصیب کړي او د خپل عبادت خوند دِ رانصیب کړي.

میں ساتھ جماعت کے پڑھوں ساری نمازیں
اللہ! عبادت میں مرے دل کو لگا دے
پڑھتا رہوں کثرت سے دُرُود اُن پہ سَدا میں
اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث ورضا دے

(وسائلِ بخشش، ص114)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آستانه مبارکه کښې بیا بیا حاضري

حضرت عبدالله بِن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ حضور اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د ظاهري ژوند مبارک اتهٔ کاله او څلور میاشتې تیرې کړې. په دې دوران کښې به هغوئي په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې بیا بیا حاضریدلو ځکه چې هغوئي د حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

وَسَلَّم د آل نه وو لهٰذا هغوئي به د خپلې ترور مبارکې حضرت بي بي عائشه صديقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہا کور ته (ډېر زيات) تللو راتللو. اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہا به د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس خپل والد محترم حضرت ابوبڪر صديق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ او د هغوئي نه پس حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره د ټولو نه زياته مينه کوله. (سيراعلام النبلا،460465/4)

هغوئي ډېر زيات فصيح و بليغ وو، په دې وجه به د هغوئي شمير د قريشو د قبيلے په نامَورو خطيبانو کښې کيدلو (تاريخِ ابنِ عساکر،179/28) د هغوئي آواز مبارک ډېر درُوند او اوچت وو، تر دې پورې چې کله به ئې خطبه ارشاد فرمائيله او آواز به ئې غرونو سره تمبيدو او واپس کيدو نو داسې به معلوميده چې غرونه د يو بل سره خبرې کوي. هغوئي به کِيرې مبارکې له زيړ رنګ ورکولو، او زلفې به ئې غوږونه نه ښکته زوړندې وې او ږيره مبارک سره به لګيدلې. (سير اعلام النبلاء،465/4)

## د زلفو پرېښودلو په سُنَّتو عمل اُوکړئ

**د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږو عاشقانو!** تاسو اوکتل؟ صحابيِ رسول حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زلفې پرېښودې وې ځکه چې زلفې پرېښودل زمونږ د آقائے کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دې، زمونږ د خوږ آقائے کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زلفې به کله د غوږونو د نيمو پورې، کله د غوږونو د پستو حِصَّو پورې، او بعضې وخت کښې به چې اوکږدے شوې نو اوګو مبارکو ته به لګيدلې، مونږ له پکار دي چې موقع په موقع باندې درې واړه سُنَّتونه ادا کړو، يعني کله د غوږونو د نيمې پورې کله پوره غوږونو پورې او کله د اُوګُو پورې زلفې پرېږدو، د اُوګو مس کولو حده پورې سُنَّت ادا کول عموماً نفس باندې ډېر ګران پريوځي خو په ژوند کښې يو ځل دا سُنَّت هُم هر سړې ته ادا کول پکار دي، خو دا خيال ساتل هم ضروري دي چې ويښته د اُوګُو نه ښکته نه شي، په اوبو باندې صحيح لمدولو نه پس د زلفو د اوږدوالي صحيح اندازه کيدے شي لهٰذا چې په کومو ورځو کښې ئې اوږدوئ هغه ورځو کښې ئې د غسل نه پس

ګمنزوئ او غور سره ورته ګورئ چې وينبته خو د اُوګو نه ښکته نه دي. د فلمونو د اداکارانو د نقل کولو په ځائے مونږ له د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوږو سنتو باندې عمل کول پکار دي ځکه چې سنت کښې عظمت او نجات دے.

سُنّتوں سے بھائی رشتہ جوڑ تُو　　نِت نئے فیشن سے منہ کو موڑ تُو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کعبے مُعَظَّمے طواف کوونکي پيرياني ښځي

حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چې زه يوه شپه حرم شريف ته داخل شوم نو ما اوکتل چې يو څو زنانه د بيت الله شريف طواف کوي. هغوئي زه په تعجب او حيرانئ کښې واچوَلم (ځکه چې هغه د عامو زنانؤ په شان نه وې). کله چې هغه زنانه د طواف نه فارغه شوې نو بهر ته لاړې. ما په زړه کښې اووئيل زه دوئي پسے شاته ځم چې زه د دوئي کورونه اُووينم. هغوئي رواني وې تر دې پورې چې يو سخت کنډؤ ته اورسيدلې بيا په هغه کنډؤ باندې اوختلې. زه هم په هغوئي پسې شاته شاته په هغه کنډو باندې اوختلم بيا هغوئي د هغې نه کوزې شوې نو زه هم ښکته ورکوز شوم بيا هغوئي يو شړ ځنګل ته داخلې شوې زه هم هغوئي پسې شاته داخل شوم. څه ګورم چې هلته بوډاګان خلق ناست دي، هغوئي زما نه تپوس اوکړو: "اے اِبنِ زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ! تاسو دلته څنګه راغلئ؟" ما د جواب ورکولو په ځائے د هغوئي نه تپوس اوکړو: "تاسو څوک ئې؟" هغوئي اووئيل: "مونږ پيريان يُو." ما ورته اوئيل: ما يو څو زنانه اوليدلې چې د بيت الله شريف طواف ئې کولو هغوئي زه په تعجب [حيرانتيا] کښې واچولم. يعني هغوئي ماته د انسانانو نه علاوه څه بل مخلوق ښکاره شوې چنانچه زه هغوئي پسې شاته شاته روان شوم تر دې چې دلته راورسيدلم. هغوئي اووئيل: "دا زمونږ زنانه (يعني پيرياني) وې، اے اِبنِ زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ! تاسو به څه خوښوئ؟" ما اووئيل: "تازه پخې کجورې خوړل غواړم." حالانکه هغه وخت په مکه مُعَظَّمه کښې د تازه کجورو نوم

و نشان هم نه وو. خو هغوئي ما له تازه پخې کجورې راوړې. چې کله ما اوخوړلې نو هغوئي ماته اووئيل: ” کومې چې باقي پاتې شوي دي، دا ځان سره يوسئ.“ حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چې ما هغه پاتې شوې کجورې ځان سره واخستې او کور ته بيرته راغلم. (لقط المرجان فی احکام الجان، ص247)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ شمير په لويو لويو بهادرو او طاقتورو صحابه کرامو کښې کيدلو لکه څنګه چې تاسو اوس د هغوئي د پيريانو سره د ملاقات واقعه اولوستله چې هغوئي د هغه پيريانو نه بالکل نه يريدلو دغه شان هغوئي يو داسې بادشاه قتل کړے وو چې د هغه ګمان دا وو چې هغه د خپلې زمانے د ټولو نه لوئي بهادر دے. (دین و دُنیا کی انوکھی باتیں، 499/1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## هغه ازمرے دے

حضرت اِبنِ اَبِي مُلَيکه رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به مسلسل ووه ورځې روژے نيولې، د دې باوجود به په وومه ورځ زمونږ نه زيات طاقتور وو ګويا چې هغوئي ازمرے دے. (اخبارِ مکہ للفاکھی،2/364، رقم:1665)

## په سلو ژبو کښې خبرې کول

د حضرت عمر بن قيس رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه روايت دے چې د حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سل غلامان وو هر يو غلام به په مختلفه ژبه کښې خبرې کولې او هغوئي به هر غلام سره د هغه په ژبه کښې خبرې کولې. (مستدرک،4/711،حدیث:6391)

## د حج خطبه

محمد بن عبدالله رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بيان کوي: حضرت عبدالله بن زبير صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حج په موقع باندې خطبه ارشاد اوفرمائيله: زه هم په هغه خطبه کښې موجود ووم.

هغوئي د اَتَمې ذولحجه نه يوه ورځ مخکښې د احرام په حالت کښې زمونږ خواه ته تشريف راوړو او دومره ښکلي انداز کښې ئې تَلبِيَه يعني (لَبَّيْكَ ط اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ ط لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ ط اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ ط لَا شَرِيْكَ لَكَ ط) اووئيله چې ما د هغې په شان تَلبِيَه کله هم نه وه اوريدلې بيا هغوئي د الله پاک حَمد و ثناء بيان کړل او اوئې فرمائيل: بيشکه تاسو د مختلفو ځايونو نه د وفدونو په شکل کښې د بيت الله طرف ته راغلي ئې. د الله پاک په ذمه کرم باندې ده چې هغه د خپلو وفدونو اکرام اوکړي. لِـهٰذا ځوک چې د الله پاک نه خير او ښيګړه طلب کولو د پاره راغلے دے نو هغه دِ پوهه شي چې د الله پاک طالِب نامراده نه واپس کيږي. تاسو د خپلو اقوالو تصديق د خپلو افعالو په ذريعه اوکړئ ځکه چې د قول اصل سرچشمه فعل او نِيَّت دے، اصل حقيقت د زړهٔ نِيَّت دے. (يعني تاسو چې څه وائې په هغې باندې عمل هم اوکړئ ځکه چې نيت اصل خبره ده) تاسو په دې ورځو کښې (يعني د حج په ورځو کښې) د الله پاک ډير ډير ذکر اوکړئ ځکه چې په دې ورځو کښې ګناهونه بخښلے کيږي. تاسو د مختلفو مقاماتو نه راغلي ئې او ستاسو د راتللو مقصد تجارت کول، مال ګټل يا دُنيا حاصلول نه دي.“ بيا هغوئي تَلبِيَه اووئيله نو خلقو هم د هغوئي سره تَلبِيَه اووئيله او ما د هغه ورځې نه زيات عبدالله بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بله ورځ په ژړا نه دے ليدلے. (مجمع الزوائد،3/555، حديث:5535)

يا الٰہی حج کروں تیری رِضا کے واسطے کر قبول اِس کو محمد مصطفٰے کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په کعبه شريفه د ريښمو غلاف

په خانه کعبه باندې د ټولو نه اول د ريښمو غلاف د کعبې شريفې د تعظيم په خاطر هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اچولے وو. دغه شان هغوئي به کعبةُ الله شريف باندې ډيره ډيره

خوشبو لګوله تر دې پورې چې د حرم شريف خوا و شا به خوشبوداره شو. (سیراعلام النبلاء،4/467)

(خانه کعبه او غلافِ کعبه باندې اوس هم خلق خوشبو لګوي لهٰذا د احرام په حالت کښې د خانه کعبې ديوال او غلاف ته لاس لګولو نه احتياط کوئ، او د حج او عمرې مسائل زده کولو د پاره د امير اهلِ سُنَّت کتاب رفيقُ المُعتمِرين او رفيقُ الحرمين ضرور اولولئ.)

## په لامبو وهلو ئې طواف مکمل کړو

حضرت عبداللّٰه بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ به د اللّٰه پاک د رضا حاصلولو د پاره د عبادت يوه موقع هم نۀ ضائع کوله تر دې پورې چې نور خلق به عاجزه شو چنانچه يو ځل په مَکّه مُکرَّمه کښې ډير زيات باران اوشو، د غرونو نه د باران اوبه په خوړونو کښې را اُوبهيدلې او د بيت اللّٰه شريف نه ګير چاپيره جمع شوې، تر دې پورې چې خلقو د پاره ګرځيدل او طواف کول ډير مشکل شُو. دغه وخت کښې هغوئي لامبو وهل شروع کړل او په لامبو وهلو وهلو ئې خپل طواف مکمل کړو. (موسوعه ابنِ ابی الدنیا، 8/423)

ديدے طوافِ خانۂ کعبہ کا پھر شَرَف　　فرما يہ پورا مُدّعا يا ربِّ مصطفٰے

## د حديثِ پاک روايت

حضرت عباس بن سَهْل بِن سَعْد انصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ بيان فرمائي، ما واوريدل چې حضرت عبداللّٰه بن زبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د مکّے مُکرَّمے په منبر شريف باندې خطبه ارشاد اوفرمائيله: چې اے خلقو! بےشکه حضور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے چې: ”که انسان سره د سرو زرو يوه دَرَه وي نو د دويمې خواهش به کوي او که دويمه ورته ملاؤ شي نو د دريمې طلبګار به وي او د انسان خيټه د خاورو نه علاوه بل يو خيز نه شي ډکولے او څوک چې توبه اوکړي اللّٰه پاک د هغه توبه قبلوي. (بخاری،4/229، حديث:6438)

خوږو اسلامي ورونړو! د دنيا مال سراسر وبال دے، مالداره خلق په دنيا کښې هم قسماقسم آزمائشونو کښې مبتلا اوسي، کله د دشمن خطره نو کله د مرګ ويره، کله د

بچو د اغوا کیدلو ویره نو کله د ټیکسونو کیسونه، که د ډیر مال غوښتلو په ځائے ډیر ډیر نیک اعمال اوکړے شي نو څومره ښه خبره به وي ځکه چې په قبر کښې به صرف نیک اعمال پکار راځي، باقي بینک بیلنس، د سرو او سپینو زرو کالي، کاروبار، نوي ګاډي، بهترین لباس وغیره هر څه به دلته پاتې وي، کاش چې! مال سره د زړۀ لګولو په ځائے زمونږ په په زړونو کښې د ربِّ ذُوالجلال یاد قائم شي نو بیا به ان شاءالله الکریم ضرور کامیاب شُو.

تاج وتخت وحکومت مت دے کثرتِ مال و دولت مت دے
اپني رِضا کا دیدے مُژده یا اللہ مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش، ص123)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## حدیثِ پاک بیانولو وخت کښې ویره

حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل والدِ محترم حضرت زبیر بن عوام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته عرض اوکړو: باباجان! زه تاسو نه هغه شان په کثرت سره حدیثونه بیانول نه اَورم څنګه چې ئې فلانکے فلانکے صحابي بیانوي نو حضرت زبیر بن عوام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائیل: زه کله هم په یوه موقع باندې د حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه جدا شوے خو نه یم خو ما د حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اوریدلي دي چې څوک په ما باندې دروغ اووائي هغه دِ خپل ځائے په جهنم کښې جوړ کړي. (بخاری، 1/57، حدیث:107،منتخب حدیثیں، ص111)

شیخ الحدیث حضرت علامه عبدالمُصطفٰي اعظمي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د حضرت زبیر مطلب دا وو چې زه د دې وعید د وجهې نه حدیثِ پاک بیانولو کښې ډیر احتیاط کووم او صرف هغه حدیثونه بیانوو کوم چې ما ته ډیر ښه یاد وي او د کومو په باره کښې چې زه ښه وُثوق (یعني اعتماد) او یقین سره معلومات لرم چې دا د رسولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے. باقي نور چې کوم صحابه زما نه زیات حدیثونه بیانوي نو ولے

چې هغوئي زما نه ډېر حديثونه ياد کړي دي ځکه هغوئي زما نه ډېر حديثونه بيانوي.
(منتخب حديثیں، ص111)

## د شهادت واقعه

حضرت عبدالله بن زبير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ رېښتيا ويُونکے، د حق د پاره جنګ کوونکے او بے مثاله توره چلوونکے وو، چنانچه يزيد پليد چې کله د هغوئي نه د بيعت مطالبه اوکړه نو هغوئي د يزيد خط اوغورزَوُو او اوئې فرمائيل: زه به د ناحقه مطالبے پوره کولو د پاره معمولي نرمي هم نه اختيار نکړم. 64 هجرئ کښې هغوئي د خلافت اعلان اوکړو، 73 هجرئ کښې عبدالمَلِک بِن مَروان اقتدار سنبال کړو او د خپل بيعت اعلان ئې اوکړو او د بَنُو اُمَيَّه ظالم ګورنر حجاج بن يوسف ئې د يو لښکر امير جوړ کړو او د مکّے مُکَرَّمے طرف ته اوليږو. بدبخته حجاج ''اَبُو قُبَيس'' غر ته اوختو او د مَنجنِيق (کاڼړي ويشتونکي توپ) په ذريعه ئې په هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د هغوئي په ملګرو باندې کاڼړي وَرَوَل شروع کړل د همّت او قوّت والا صحابيِ رسول د هغه ظالم فوج سره په بهادرئ سره مقابله اوکړه، يو کاڼړے راغے د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په سر مبارک باندې اولګيدو نو هغوئي زمکې ته تشريف راوړو. دښمن ور ورانديې شو او هغوئي ئې په ډېره بےدردئ سره شهيد کړلو. (حلیۃ الاولیاء،408407/1،رقم:1170)

## صابره و شاکره مور

جَنَّتي صحابيه حضرت بي بي اسماء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: ما د خوږ پيغمبر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا ارشاد اوريدلے دے چې ''بيشکه په قبيلهٔ ثقيف کښې به يو ډېر لوئ ظالم وي.''

(معجم کبیر،100/24،حدیث:271،مستدرک علی الصحیحین،716/4،حدیث:6397)

امام شرف الدين نووي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ليکي: د علمائے کرامو په دې خبره باندې اجماع (يعني اتفاق) دے چې په حديثِ مبارک کښې د ظالِم نه مراد حجاج بن يوسف دے.
(شرح مسلم للنووی،100/8،جز:16)

صابِرې او شاکِرې مور ته چې کله د خپل خوږ ځوئ د شهادت خبر اوشو نو د اللّٰه پاک په رضا باندې راضي شوه او اوئې فرمائيل: زه غواړم چې ما له تر هغه وخته پورې مرګ رانَشي تر څو پورې چې عبداللّٰه ما ته حواله نَکړے شي. هغوئي ته غسل ورکړے شي، خوشبو پرې اولګولے شي کفن ورکړے شي او بيا دفن کړے شي. څه ساعت پس د عبدالمَلک خط راغے چې د حضرت عبداللّٰه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مړے مبارک دِ د هغوئي د کور خلقو ته حواله کړے شي. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د حضرت بي بي اسماء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا خواه ته راوړلے شو بيا غسل ورکړے شو پاک او صفا کړے شو خوشبو پرې اولګولے شوه او خخ کړے شو. (مصنف ابن ابی شیبة، 122/16، حدیث: 31318) حضرت ايوب رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بيان فرمائي: زما خيال دے چې حضرت بي بي اسماء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د حضرت عبداللّٰه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دفن کولو نه پس صرف درې ورځې ژوندئ وه. (حلیۃ الاولیاء، 68/2، حدیث: 1503) د يو قول مطابق د مکّے مُکَرَّمے په قبرستان کښې د مور او ځوئ دواړو قبرونه د يو بل سره برابر جوړ کړے شوي دي. (جنتی زیور، ص528) **د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم　　یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسول اللہ

(وسائلِ بخشش، 330)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**